# حضرت ابراهیم عَلَیۡهِ السَّلام او نمرود

22-July-2021



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام او نمرود

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ، نو په ياد سره د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې په جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښناك، اُوده كيدلو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د مخكښې نه مو د اعتكاف نِيَّت كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي.

## د درود شريف فضيلت

د نبــئ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چا چې دا اووئيل: جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَّا هُوَ اَهْلُهٗ نو اويا فرښتے به د زرو ورځو پورې د هغه د پاره نيكئ ليكي. (1)

مومنو! پڑھتے نہیں کیوں اپنے آقا پر درود | ہے فرشتوں کا وظیفہ اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام (2)

---

1…معجم اوسط، جلد:1، صفحه:82، حديث:235۔
2…قبالۂ بخشش، صفحہ:164۔

اے مومنانو ولے نه لولئ په خپل آقا دُرود د فرښتو وظيفه ده اَلصَّلٰوۃُوَالسَّلَام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ (يعني) رښتينے نِيَّت د ټولو نه افضل عمل دے.(1)

اے عاشقانِ رَسُول! ياد ساتئ! په نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه كوو:

نِيَّت اوكړئ چې، ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❀ چې څومره كيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې كښينم ❀ كه قلم كاغذ درسره وي نو د اهمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هم اوكړئ.

## د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلام تعارُف

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام د **الله** پاك جليلُ القدر نبـي دے، **الله** پاك هغوئي عَلَيْهِ السَّلام خپل خليل جوړ كړے دے، په دې وجه حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام ته "خَلِيْلُ الله" وائي. د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام نه پس چې څومره انبياو عَلَيْهِمُ السَّلام تشريف راوړے دے، ټول د هغوئي عَلَيْهِ السَّلام د اولاد نه دي، په دې وجه حضرت

[1]...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته اَبُو الْاَنْبِيَاء (يعني د انبياؤ والد) هم وائي، حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام هغه وړومبے انسان دے چا چې باقاعده په اهتِمام سره د ميلمه ميلمستيا کړي ده،[1] په دې وجه د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام لقب اَبُو الضِّيْفَان يعني ميلمستيا کوونکے هم دے.[2] د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام حُليه مُبارك او ظاهري شكل و شباهت د تاجدارِ انبياء، **خَاتَمُ النَّبِيِّيْن**، **محمد مُصطَفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ميلاويدلو،تر دې پورې چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: که حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ليدل غواړئ نو خپل صاحِب (يعني محمد صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ته اوګورئ.[3]

| | |
|---|---|
| وہ جَدّ مصطفےٰ ہیں، رَبّ کے خلیل ہیں | ہے نام ابراہیم، وَجِیہ و جلیل ہیں |
| هغه جَدِّ مُصطفٰى دے، د ربّ خليل دے | نوم ئې ابراهيم دے وجيه و جليل دے |

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د عراق په ښار بابِل کښې پيدا شوے وو، په هغه وخت کښې په ټوله دُنيا باندې د نمرود بادشاهي وه او د هغه دارُ الحُكومت هم بابِل وو. نمرود ډير سرکشه، ډير بےبے وقوفه او ظالم بادشاه وو، داسې بدبخته بنده وو چې د خدائي دعوى به ئې کوله او خلق به ئې په خپل عبادت کولو مجبورول.[4]

هغه وخت چې هر طرف ته کفر و شِرك خور شوے وو، حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د حق د کلِمے اعلان اوکړو، د دِينِ حق تبليغ ئې شروع کړو او خلق ئې د اَللهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْك عبادت طرف ته را اوبلل. په دې سلسله کښې يو ځل د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ

---

[1]...مراۃ المناجیح، باب:الترجل، الفصل:الثالث، جلد:6، صفحه:193۔

[2]...حلیۃ الاولیاء، عکرمہ مولی ابن عباس، جلد:3، صفحه:385، حدیث:4361۔

[3]...بخاری، کتاب:احادیث الانبیاء، باب:واتخذاللہ ابرہیم خلیلا، صفحه:856، حدیث:335۔

[4]...سیرت الانبیاء، صفحه:257بتغیر قلیل۔

السَّلام د نمرود سره د ”تَوحِيد“ په موضوع باندې مُناظَره اوشوه، اللّٰه پاك هغه مُناظَره په دريمه سيپاره، سورۀ بقره، آيت نمبر258 كښې ذكر كړې ده. ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِیْ حَآجَّ اِبْرٰهٖمَ فِیْ رَبِّهٖۤ اَنْ اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَۘ اِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّیَ الَّذِیْ یُحْیٖ وَ یُمِیْتُۙ قَالَ اَنَا اُحْیٖ وَ اُمِیْتُؕ قَالَ اِبْرٰهٖمُ فَاِنَّ اللّٰهَ یَاْتِیْ بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَاْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِیْ كَفَرَؕ وَ اللّٰهُ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَۚ(۲۵۸)<br>(پارہ3،سورۃالبقرۃ:258) | مفهوم ترجمه كنزُالعِرفان: اے حبيبه! آيا تاسو هغه نه وو ليدلے چا چې د حضرت اِبراهيم سره د هغه د ربّ په باره كښې جګړه كړې وه، چې اللّٰه هغه ته بادشاهي وركړې وه، كله چې ابراهيم اوفرمائيل: زما ربّ هغه دے كوم چې ژوند وركوي او مرګ كول كوي. هغه اووئيل: زه هم ژوند وركووم او مرګ كول كووم. ابراهيم اوفرمائيل: اللّٰه خو لمَر د مشرق نه راخيژوي نو ته ئې د مغرب نه را اوخيژوه. نو هغه كافِر حيرانه پاتېپاتې شو، او اللّٰه ظالِمانو ته هدايت نه وركوي. |

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دې اِيمان افروزې مُناظرے تفصيل داسې دے چې، يو ځل قحط راغے، بارانونه نه كيدل، غله په ختميدو شوه، خلق په مشكلاتو كښې اخته شو، په داسې مشكل وخت كښې نمرود بدبخته دا سياست اوكړو چې د غلے او دانو ټولې ذخيرے ئې په خپله قبضه كښې واخستې، بيا چې څوك به راتلو، نمرود به ترينه تپوس كولو: ستا ربّ څوك دے؟ چې هغه به وئيل زما ربّ ته ئې نو نمرود به هغه ته غله وركړه. په دې دوران كښې حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام هم د نمرود دربار ته تشريف راوړو. په دغه وخت كښې د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام او نمرود په

مينځ کښې دا مُناظَره اوشوه. (1)

په دې مُناظَره کښې د حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلام اصل يو دليل دے او هغه دا دے چې

☆ربّ هغه دے چې مکمل قُدرت و اختيار والا وي، د چا مُحتاجه نه وي.

☆او هغه صرف يوه هستي ده، کوم چې په کائنات کښې مکمل قُدرت و اختيار والا دے.

☆لِهٰذا هغه يوه هستي ربّ دے، ټول د هغه مُحتاجه دي، هغه د چا مُحتاجه نه دے.

خو دا دليل په منطقي طريقهٔ کار سره ورکول مشکل وو، لِهٰذا حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلام د دې دليل د بيانولو په ځائے، د هغې دوه مثالونه بيان کړل، چې کله نمرود ترينه تپوس اوکړو: اے ابراهيمه! ستا ربّ څوك دے؟ نو حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلام اوفرمائيل:

| | |
|---|---|
| رَبِّیَ الَّذِیْ یُحْیٖ وَ یُمِیْتُۙ<br>(پاره3،سورة البقرة:258) | مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: زما ربّ هغه دے کوم چې ژوند ورکوي او مرګ کول کوي. |

يعني اے نمروده! پخپله ستا ژوندي اوسيدل او عنقريب مړ کيدل زما د ربّ روښانه دليل دے، زما ربّ داسې قُدرتونو والا دے چې په بے ساه څيز کښې ژوند پيدا کوي، ساه لرونکې ته مرګ ورکوي. د يوے مړے نطفے نه ژوندے عقل مند انسان جوړوي، بيا چې کله اوغواړي هغه ساه لرونکې انسان ته مرګ ورکوي، په هګۍ کښې نه کړکۍ، نه روشندان شته، نه هلته هوا رسي، نه غذا، په داسې بند ځائے کښې چرګوړي ته ژوند ورکوي، الغرض زما ربّ د هر بااختياره نه زيات اختيار او قُدرت والا دے، د ژوند خالق هم هغه دے، د مرګ خالق هم هغه دے، څوك چې [د

1...تفسيرنعيمی، پاره:3، سورهٔ بقره، زيرِ آيت:258، جلد:3، صفحه62۔

هغه نه سِو] د قُدرت و اختيار دعوٰی کوي هغه په خپل قُدرت او طاقت کښې بلکه په خپل ژوندي اوسيدو کښې زما د ربّ مُحتاجه دے او څوك چې مُحتاجه وي هغه هيڅ کله هم خُدائے نه شي کيدے، لِهٰذا خُدائے صرف يو دے او هم هغه اصل قُدرت و طاقت والا دے.

د ټولو پيدا کوونکے زما مولا، زما مولا
د ټولو نه افضل، د ټولو نه اعلیٰ زما مولا زما مولا
ټولو ته رزق ورکوي، نِعمَت د هغه، دولت د هغه
رازق هم، پالونکے هم زما مولا زما مولا
مونږ ټول عاجِز بندګان، ژوندي ساتي او مرګ راکوي
د ټولو نه اوچت شان والا زما مولا زما مولا
طاعت، سجده حق د هغه دے د هغه عبادت اوکړئ ربّ هغه دے
الله، الله، الله، الله زما مولا زما مولا

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دليل بالکل واضحه، مکمل او په آسانئ سره په عقل کښې راتلو خو د دې جواب بدبخته نمرود نه شو ورکولے. البته نمرود يو بادشاه وو، خواوشا ټول د هغه وزيران او مشيران وو، هغه ته خدائے ويوونکی عوام وو ، د دې ټولو په مخکښې د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د دليل جواب نه ورکول د نمرود د پاره سخت د ذِلّت سبب وو، لِهٰذا هغه بے وقوفه خپل د دروغو عِزَّت بچ کولو د پاره ډير د بے وقوفئ جواب ورکړو:

| | |
|---|---|
| اَنَا اُحْیٖ وَ اُمِیْتُ ؕ<br>(پاره3،سورة البقرة:258) | مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: زه هم ژوند ورکووم او مره کول کووم. |

يعنې اے ابراهيم (عَلَيْهِ السَّلَام) ستا د وينا مطابق که ربّ هغه وي څوك چې ژوند او

مرګ ورکوي نو دا کار خو زه هم کووم، لِهٰذا ستا د دليل مطابق زه ربّ شوم. بيا نمرود خپله دعوٰی ثابتولو د پاره دوه قيديان را اوبلل، په هغې کښې ئې يو قتل کړو او بل ئې آزاد کړو او اوئې وئيل: اوګوره! کوم چې ما پريښودو، هغه ته ما ژوند ورکړو او کوم چې مې قتل کړو، هغه ته مې مرګ ورکړو.

الله! الله! څومره د حماقت [يعني بے وقوفئ] خبره ده...!! چرته په يو بے ساه څيز کښې ساه اچول او چرته ژوندے کس ژوندے پريښودل ، په دې دواړو کښې د زمکې او اسمان فرق دے، اګرچې عقلمند انسان په دې پوهيدے شي چې د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دليل پوخ او واضحه دے خو د نمرود دا ظالِمَانه حرکت څومره د بے وقوفئ دے، خو هلته موجود ټول خلق د نمرود مدد ګار وو، هغوئې د نمرود دا حماقت [يعني بے وقوفي د هغه] فتح اوګڼړله، نو حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام خپل دا دليل په يو بل انداز کښې بيان کړو، ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| فَاِنَّ اللّٰهَ یَاْتِیْ بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَاْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ (پاره3،سورۃالبقرۃ:258) | مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: الله خو لمَر د مشرق نه راخيژوي نو ته ئې د مغرب نه را اوخيژوه. |

يعنې اے نمروده! په بےساه بدن کښې ساه پيدا کول خو ستا په وس کښې نشته، ته د دې نه اسان کار اوکړه، هغه دا چې لمَر يو بے ساه څيز دے، دا مسلسل حرکت کوي، د دې حرکت اودرول خو مشکل دي، ته بس دومره اوکړه چې لمَر د مشرق نه مغرب طرف ته ځي، ته د دې اړخ بدل کړه او لمَر د مغرب نه را اوخيژوه او مشرق طرف ته ئې بوځه.

نمرود چې دا واوريدل نو ډير حيرانه شو او خاموشه پاتې شو، په غُصَّه کښې ئې اووئيل: ابراهيمه! ځه...! زما سره ستا د پاره غله نشته، د هغه ربّ نه اوغواړه د چا چې

عبادت کوي. حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام تش لاس بیرته روان شولو، په لاره کښې د شګې د یوے غونډۍ په خوا تیریدلو، د هغه ځائے نه ئې بوجۍ د شګې نه ډکه کړه او کور ته اورسیدلو، د شګو ډکه بوجۍ ئې کینبوده او پخپله ئې آرام اوکړو. چې کله هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام رابیدار شو نو د هغوئي بي بي حضرت هاجره رَضِیَ اللهُ عَنْهَا ورته طعام پیش کړو، حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام ترینه تپوس اوکړو: دا غله د کوم ځائے نه راغله؟ عرض ئې اوکړو: هُم هغه ده کومه چې تاسو په بوجۍ کښې راوړي ده. چې حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام دا خبره واوریدله نوپوهه شو چې **الله** پاك د خپل قُدرت د خزانے نه مونږ ته دارزق راعطا کړے دے.

**اے عاشِقانِ رسول!** د ظالِم او سرکشه بادشاه نمرود ډیر عبرتناك انجام اُوشو، په تفسیرِ نعیمي کښې دي: **الله** پاك د نمرود په لښکر باندې د ماشو عذاب را اولیږلو، ماشي دومره زیات راغلل چې لمَر ئې پټ کړو ، دې ماشو د نمرود د لښکریانو وینې اوڅښلې، د هغوئي غوښه ئې اوخوړې او د نمرود نه علاوه د باقي ټولو هډوکي پاتې شو، نمرود دا عذابِ اِلٰهي لیدلو خو څه ئې نه شو کولے، بیا یو ماشے د نمرود په پوزه کښې ننوتلو او دماغو ته اورسیدو او د 400 کالو پورې ئې د هغه مازغه چیچل، چې کله به چا په سر په څپیړه اُووهلو نو ماشے به لږ غلے شو، بڅه ساعت پس به ئې بیا چیچل شروع کړل، پس سحر ماښام به هغه په سر ګُزارونه خوړل، یعني د هغه د دربار ادب دا وو چې څوك به راتلل نو د نمرود سر به ئې په څپلۍ وهلو. د دې عذاب نه مخکښې 400 کاله نمرود ډیر په آرام سره بادشاهي کړي وه او بیا نور 400 کاله په څپلو اووهلے شو، آخر کار په سخت ذِلّت سره مړ شو، د هغه عمر د 800 کالو نه زیات وو. (1)

---

[1]…تفسیرِ نعیمی، پارہ:3، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:258، جلد:3، صفحہ61تا63ملتقطاً۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د "تَوحيد" دلائل

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! **الله** پاك يو دے، د هغه څوك شريك نشته، **الله** پاك بےنيازه دے، ټول د هغه مُحتاجه دي، هغه د چا مُحتاجه نه دے، نه د چا نه پيدا دے، نه ترينه څوك پيدا دي، يعني نه ئې پلار شته او نه ئې اولاد شته، هيڅ څوك د هغه برابر نشته، هيڅ يو څيز نه د هغه مِثَل شته، نه كيدے شي بلكه حق دا دے چې صرف هغه موجود دے، د باقي [مخلوق] وُجُود عارضي ، فاني دے، باقي ټول هر څه **الله** پاك پيدا كړي دي، چې كله هغه اوغواړي نو ختم به شي.

| | |
|---|---|
| لَا مَوْجُوْدَ اِلَّا الله | لَا مَشْهُوْدَ اِلَّا الله |
| لَا مَقْصُوْدَ اِلَّا الله | لَا مَعْبُوْدَ اِلَّا الله |

لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله، اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ الله

| | |
|---|---|
| ہے موجودِ حقیقی وہ | ہے مشہودِ حقیقی وہ |
| ہے مقصودِ حقیقی وہ | معبودِ حق و حقیقی وہ |

لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله، اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ الله

**وضاحت:** يعني حقيقي وجود صرف د **الله** پاك دے، نور چې څومره څه موجود دي، د **الله** پاك په پيدا كولو په وجود كښې راغلي دي، مقصودِ حقيقي هم هغه دے، ځكه چې ټول د هُم هغه يو **الله** پاك د رضا طلب ګار دي او د عبادت لائق هم صرف **الله** پاك دے، بل هيڅ څوك معبود نشته سوا د الله نه، مونږه د **الله** پاك په رسول رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ايمان راوړے دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشِقانِ رسول! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د الله پاك په وجود او وَحدانِيَّت باندې د دُنيا هر خيز روښانه دليل دے، كوم ناپوهه انسان چې د الله پاك د وَحدانِيَّت او د هغه د ربّ كيدو انكار كوي، د هغه صرف ژبه [په كُفر] چليږي، ګني د هغه سترګې، غوږونه، لاس، ښپے، ټول بدن، د هغه ځان بلكه د هغه د وينا طاقت، د هغه خپل وجود د الله پاك د وحدانيت اعلان كوي، ګويا د هغه خپل ځان هغه ته دا وائي چې: اے نادانه! ته چې په كومو دماغو سوچ كوې ، هغه دماغ الله پاك پيدا كړي دي، ته چې په كومه ژبه خبرې كوې ، هغه الله پاك پيدا كړي ده، په كومو سترګو چې ته كتل كوې دا الله پاك پيدا كړى دي، په كومو لاسونو چې ته نيول كوې ، دا الله پاك جوړ كړي دي، ته چې په كومو ښپو ګرځې، هغه ښپے هم الله پاك پيدا كړي دي، ستا په سينه كښې چې زړه حركت كوي دا هم الله پاك پيدا كړے دے، تا ته ژوند الله پاك دركړے دے، تا ته د خبرو كولو، اوريدلو، پوهه كيدلو، سوچ كولو، تلو راتلو طاقت هم الله دركړے دے، كه ته هر څومره زور اولګوے، ترقي اوكړې، نِزدې ده چې هغه به تا ته مرګ راولي او ته به ختم شې، اے ناپوهه انسانه! په خپل ځان كښې دننه غور اوكړه! ستا كيدل نه كيدل، ټول هر څه د الله پاك په وُجُود باندې، د هغه په وحدانيت باندې واضحه او صفا دليل دے، الله پاك فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ فِیْۤ اَنْفُسِكُمْ ؕ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ﴿۲۱﴾<br>(پارہ26،سورۃالذّٰریٰت:21) | مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان: او پخپله ستاسو په ذاتونو كښې [غور اوكړئ]، نو آيا تاسو ګورئ نه؟ |

يعني اے كافرو...! ستاسو د پيدا كيدو په مرحلو كښې، ستاسو د اندامونو په جوړيدو كښې، ستاسو د اندامونو په ترتيب كښې، ستاسو د بدن په دننه نِظام كښې، ستاسو د پيدائش نه پس ترتيب وار ستاسو حالتونو بدليدو كښې، ستاسو په شكلونو، صورتونو او

د ژبو په اختلاف كښې، ستاسو د ذِهني او جسماني صلاحيتونو مختلِف كيدو كښې، ستاسو په ظاهر او باطن كښې د **الله** پاك د قُدرت بيشميره عجائبات موجود دي نو آيا ته غور نه كوې....؟ **(1)**

| | |
|---|---|
| اللہ واحد و یکتا ہے | ایک خدا بس تنہا ہے |
| کوئی نہ اس کا ہمتا ہے | ایک ہی سب کی سنتا ہے |

لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰه، اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللّٰه

| | |
|---|---|
| ہر ہر ذَرَّہ ہر قطرہ | شاہِد ہے ہر ہر لمحہ |
| اس کی قدرت وصنعت کا | یکتائی و وَحدَت کا |

لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰه، اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللّٰه

| | |
|---|---|
| میں ہوں بندہ وہ مولا | کون ہے اپنا اُس کے سِوا |
| میں ہوں اس کا وہ ہے مرا | جس نے بنایا اور پالا |

لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰه، اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللّٰه

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يوه مختصر مُناظَره (حكايت)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** يو ځل د امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوا ته يو څو كافِران راغلل، هغوئي د امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه سوال اوكړو: د خُدائے د وُجُود څه دليل دے؟ (شايد امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه وخت د تُوت د وني خوا ته ناست وو، په دې وجه ئې اوفرمائيل: د تُوت دا ونه زما د قادِر و قَيُّوم **الله** پاك د وُجود دليل دے. كافرو اووئيل: هغه

[1]...صراط الجنان، پارہ:26، سورۂ ذاریات، زیرِ آیت:21، جلد:9، صفحہ:495۔

خنګه؟ اوئې فرمائيل: اوګورئ! د تُوت دا پاڼړه چې هوسئ اوخوري نو مُشك ترينه جوړيږي، كه چيلئ ئې اوخوري نو شوده [يعني پـيئ] ترينه جوړيږي، او كه دا پاڼړه د ريښمو چينجے اوخوري نو د دې نه ريښم جوړيږي، فَمَنِ الَّذِیْ جَعَلَ هٰذِهِ الْاَشْیَاءَ كَذٰلِكَ مَعَ اَنَّ الطَّبْعَ وَاحِد هغه څوك دے كوم چې يوې پاڼړې ته دومره شكلونه وركوي، حالانكه پاڼړه يوه، د هغې طبيعت يو، مواد يو، بس خوړونكي ځناور بدليږي او د دې پاڼړې نه جوړيدونكے څيز هم بدليږي. بس كوم ذات چې د يوے پاڼړې نه كله مُشك، كله شوده، كله ريښم جوړوي، هم هغه ته خُدائے وائي، دا ښكلے دليل چې كافرو واوريدلو نو فوراً ئې كَلِمه اولوستله او مسلمانان شول. (1)

كوئى تو ہے جو نظامِ ہستی چلا رہا ہے، وہی خدا ہے
دکھائی بھی جو نہ دے، نظر بھی جو آرہا ہے، وہی خدا ہے
سفید اُس کا، سیاہ اُس کا، نفس نفس ہے گواہ اُس کا
جو شعلۂ جاں کو جلا رہا ہے، بجھا رہا ہے، وہی خُدا ہے

## د فَلسَفِي غُرور څنګه مات شو....؟ (حكايت)

مولانا رُوم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په **مَثْنَوِی** شريف كښې فرمائي: يو ځل يو فلسفي چرته روان وو چې هغه د قُرآنِ كريم د تِلاوت آواز واوريدلو، يو كس د سورۀ مُلك تِلاوت كولو، چې كله هغه د سُورۀ مُلك آخري آيت تِلاوت كړو، چې پكښې **الله** پاك فرمائي:

---

1 ...تفسیرِ کبیر، پارہ:1، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:21تا22، جلد:2، صفحہ:333۔

قُلْ اَرَءَیْتُمْ اِنْ اَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ یَّاْتِیْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِیْنٍ ﴿۳۰﴾ (پارہ29،سورۃالملک:30)

مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: تاسو اوفرمائے: تاسو اوګورئ خو! که سحر ستاسو اوبه په زمکه کښې ننوځي نو هغه څوك دے چې ستاسو د سترګو په وړاندې رواني اوبه راوړي؟

دا آیت ئې چې واوریدلو نو هغه فلسفي په تکبر او غُرور سره اووئیل: دا څه مشکله خبره ده، که الله پاك په زمکه کښې اوبه ننباسي نو مونږ به د سائنسي آلاتو په ذریعه اوبه بیا را اوباسو. هغه کافِر او مُنکِر فلسفي دا خبره اوکړه او روان شو، د شپې چې کله اوده شو نو خوب ئې اولیدلو چې یو طاقتور کس راغے، هغه دې فلسفي ته په مخ تیزه څپیړه ورکړه، هغې سره د هغه دواړه سترګې بهر را اووتلې او ورسره ئې په سترګو کښې چې د نور یو یو څاڅکے اوبه وې هغه هُم په زمکه اولویدې او اوچې شوې.

څپیړه وهونکي هغه [فلسفي] کس ته په خوب خوب کښې اووئیل چې: اے بدنصیبه! که ته واقعي د کودالې، کشَئ او نورو سائنسي آلاتو په ذریعه د الله د مدد نه بغیر اوبه د زمکې نه راویستلے شې نو د خپلو سترګو نه وتونکي دا دوه څاڅکي د زمکې نه را اوباسه....؟

سحر له چې فلسفي راپاڅیدلو نو سترګې ئې راوتلې وې، څه ئې نه لیدل، د غُرور او تکبر ټوله نشه ئې ختمه شوې وه او الله ئې وئیل.

کسی کو تاجِ وقار بخشے، کسی کو ذِلّت کے غار بخشے
جو سب کے ماتھے پہ مہرِ قُدرت لگا رہا ہے، وہی خُدا ہے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# مونږه د الله په ربّ کيدو باندې راضي يو

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ‌السَّلَام د نمرود سره چې کومه مُناظَره اوشوه، په هغه مُناظَره کښې زمونږ د پاره د عبرت و نصيحت ډير مدني ګلونه دي، يو اهم ايمان افروز مدني ګل کوم چې بعضې مُفَسِّرينو بيان کړے دے، هغه دا دے چې کله د حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ‌السَّلَام د نمرود سره دا مُناظَره اوشوه، د هغه و خت د حالت منظر لږ په تَصَوُّر کښې راولئ! د حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ‌السَّلَام په مُقابَله کښې چې کوم کس دے هغه د ټولې دُنيا بادشاه دے، ډير ظالِم او سرکشه انسان دے او پخپله د خدائي دعوٰی هم کوي، وزيران او مُشيران هم د هغه دي، سپاهيان او عوام هم د هغه ستائنه کوي، دلته حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ‌السَّلَام بالکل يواځې دے، نه ورسره فوج شته، نه سپاهيان، نه ورسره ظاهري بادشاهي شته او نه ئې په ظاهره څوك مدد ګار شته.

په دې حال کښې نمرود د حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ‌السَّلَام نه تپوس اوکړو: اے ابراهيمه! اووايه، ستا ربّ څوك دے؟

سُبۡحٰنَ الله! د حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ‌السَّلَام ايماني قُوَّت اوګورئ، د حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ‌السَّلَام بے مثاله بهادري اوګورئ، د حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ‌السَّلَام په **الله** پاك باندې کامله بروسه اوګورئ، حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ‌السَّلَام نه اُويَريدلو او نه په رُعب کښې راغلو، په پورا اعتماد او پورا يقين سره او په فخريه انداز کښې ئې د خپل ربّ په وُجود باندې، د خپل ربّ په وحدانيت باندې دليل بيان کړو او د دليل الفاظ دا وو: رَبِّیَ الَّذِیۡ زما ربّ هغه دے، دلته حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ‌السَّلَام داسې هم وئيلے شو: اے نمروده! ستا ربّ هغه دے يا زمونږ د ټولو ربّ يا که د ټولو جهانونو د ربّ دليل ئې ورکړے وے نو دا نوره هم واضحه کيدله خو بعضې مُفَسِّرين ليکي: حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ‌السَّلَام دلته ”رَبِّیَ الَّذِیۡ زما ربّ هغه دے“ اووئيل، په دې کښې هغوئي عَلَيۡهِ‌السَّلَام د فخر اظهار کړے دے، ګويا

هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام نمرود ته دا ښائي چې اے نمروده! ته هغه ئې چې خلق مجبوروے، سزاګاني ورکوے، د خلقو په حقونو قبضے کوے، غَله او دانے د خلقو نه حصاروے او په زوره پرې ځان ته خدائے وائے، خو حقیقي خُدائے هغه دے چې زه مجبوراً هغه خدائے نه منم بلکه زه په دې فخر کووم چې زه د هغه خُدائے بنده یم، هغه د قُدرتونو والا خُدائے باندې یقین ساتم، کوم چې ژوند هم ورکوي، مرګ هم راولي، لمَر د مشرق نه راخیژوي او په مغرب کښې پرې باسي، هغه رښتینے ربّ دے او هم هغه حقیقي معبود دے.

**اے عاشِقانِ رسول!** د نمرود په مخکښې د حضرت اِبراهیم عَلَيۡهِ السَّلَام دا مبارك انداز دا ښکلي ښکلي الفاظ ایمان ته تازګي ورکوي، مونږه د حضرت اِبراهیم عَلَيۡهِ السَّلَام په مِثل نه شو کیدے، مونږ ته د حضرت اِبراهیم عَلَيۡهِ السَّلَام همره د اِیمان نُور خو نه شي نصیب کیدے ځکه چې حضرت اِبراهیم عَلَيۡهِ السَّلَام خو د الله پاک نبـي دے، د **الله** پاك خلیل دے، البته د حضرت اِبراهیم عَلَيۡهِ السَّلَام په تابعدارئ کښې د حضرت اِبراهیم عَلَيۡهِ السَّلَام د بارګاه نه فیض حاصلولے شو، **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! مونږه هم په دې خبره باندې فخر کوو چې مونږه په یو اَللهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْك باندې ایمان لرو، مونږه فخر کوو چې زمونږه ربّ هغه دے کوم چې ژوند هم ورکوي، مرګ هم راولي، زمونږه ربّ هغه دے کوم چې د ټول جهان پالونکے دے، مونږه فخر کوو چې زمونږه ربّ هغه دے چا چې زمکه جوړه کړې ده، چا چې آسمان جوړ کړے دے، چا چې لمَر، سپوږمئ او ستوري جوړ کړي دي، مونږه فخر کوو چې زمونږه ربّ هغه دے کوم چې ګلونه، میوے رازرغونوي، باران را وَرَوي، د باران یو څاڅکے په سِیپ [یعني کونجکه] کښې اوساتي او د هغې نه ملغلره جوړه کړي، زمونږ ربّ هغه دے څوک چې نه اُوده کیږي او نه خوب ورځي، زمونږ د ربّ د شان و عظمت نظارے هر طرف ته خورے دي، ذره ذره د هغه د قُدرت اظهار

كوي، زمونږه ربّ هميشه قائم دے، هميشه به قائم وي، هيڅ كله ورله فنا نشته، زمونږه د ربّ د شان او عظمت څه حد نشته، مونږه هغه رښتينے او حقيقي او واحِد لاشريک خدائے منو، چا چې حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام په خپل دستِ قُدرت سره جوړ كړو، چا چې د حضرت نُوح عَلَيۡهِ السَّلَام په طُوفان كښې حِفاظت اوفرمائيلو، چا چې د حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام د پاره اور گلِ گلزار كړو، هغه ربّ دے چا چې د حضرت موسٰى عَلَيۡهِ السَّلَام د پاره په درياب كښې لارې جوړې كړې، چا چې حضرت عيسٰى عَلَيۡهِ السَّلَام بغير دپلاره پيدا كړو. مونږه فخر كوو چې مونږه په هغه اَللّٰهُ وَحۡدَهٗ لَاشَرِيۡك باندې ايمان لرو چا چې د ټولو جهانونو آقا و مولٰى، سردارِ انبياء، خَاتَمُ النَّبِيِّيۡن، محمد مُصطَفٰى صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رَحۡمَةٌ لِّلۡعَالَمِيۡن جوړ كړے راليږلے دے.

اے عاشِقانِ رسول! مونږه خو په دې خبره باندې ډېر زيات فخر كوو چې **اللّٰه** پاك مونږه د خپل محبوب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتيان جوړ كړي يو، مونږه فخر كوو چې مونږه د هغه آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامان يُو كوم چې رَحۡمَةٌ لِّلۡعَالَمِيۡن دے، مونږه د هغه آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامان يو كوم چې د ټولو انبياؤ سردار دے، مونږه د هغه آقا، محبوبِ انبياء صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامان او اُمَّتيان يو كوم چې **اللّٰه** پاك عرش ته بلكه د عرش نه هم بره خپل خاص قُرب ته بللے وو، خپل ديدار ئې ورته نصيب كړے وو، بيا ئې بيرته مكے مُكَرَّمے ته هم را اورسولو او مونږ ته د دِين و دُنيا خيرونه راكولو د پاره ئې مونږه د هغه خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامان جوړ كړو، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! مونږه په دې فخر كوو، او اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! د قيامته پورې به په دې فخر كوو.

د حضرت ابو سعيد خُدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنۡ رَضِيَ بِاللّٰهِ رَبًّا وَ بِالۡاِسۡلَامِ دِيۡنًا وَ بِمُحَمَّدٍ رَسُوۡلًا وَجَبَتۡ لَهُ الۡجَنَّةُ خوك

چې د **اللّٰه** پاك په ربّ كيدو باندې راضي شو (يعني په مشكلاتو كښې، په آسانئ كښې، په هرحال كښې ئې صبر و شُكر ادا كړو او **اللّٰه** پاك ئې خپل ربّ اومنلو)، او څوك چې داسلام په دين كيدو او د **مُحَمَّد** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په رسول كيدو باندې راضي شو، د هغه د پاره جَنَّت واجب شو. (1)

اعلٰی حضرت، اِمام اهلسُنَّت د خوږ نبـي په غُلامئ باندې د فخر اظهار كولو كښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| میرے آقا کا وہ دَر ہے جس پر | ماتھے گِھس جاتے ہیں سرداروں کے |
| کیسے آقاؤں کا بندہ ہوں رضا | بول بالے مِری سرکاروں کے(2) |

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام اعلٰی اوصاف

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام د **اللّٰه** پاك برګزيده نبـي او خليل دے، زمونږ د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس د ټولو نه اوچته مرتبه د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام ده، **اللّٰه** پاك په قرآنِ كريم كښې د 50 ځلو نه زيات د هغوئي عَلَيْهِ السَّلام نوم ذِكر كړے دے او د هغوئي عَلَيْهِ السَّلام ډير اوصافِ عاليه هم په قرآنِ كريم كښې ذِكر شوي دي. (3) راځئ! چې د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام ديو څو اعلٰی اوصافو ذِكر اوكړو:

---

1 …مشكوٰة، كتاب:الجهاد، الفصل:الثالث، جزء:3، جلد:2، صفحه:33، حديث:3851۔

2 …حدائقِ بخشش، صفحه:359تا360۔

3 …بصائر ذوی التمييز، الباب:الثلاثون، بصيرة فى ذكر ابراهيم، جلد:6، صفحه:24۔

## (3-1): حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام حَلِيم، اَوَّاه او مُنِيب دے

په سيپارۀ 12، سورۀ هود، آيت نمبر 75 کښې ارشاد دے:

اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَحَلِيْمٌ اَوَّاهٌ مُّنِيْبٌ ﴿۷۵﴾ (پاره12،سورۃھود:75)

مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: بيشکه ابراهيم ډير تحمل کوونکے، ډير آه ويستونکے او رجوع کوونکے دے.

په دې آيتِ کريمه کښې الله پاك د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام درې اعلٰی صفتونه بيان کړي دي: (1) حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام حِلم والا دے، (2) حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام اَوَّاه دے، (3) حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام مُنِيب دے.

د حِلم معنٰی ده: بُردباري، دزړه نرمي، روا داري. اِمام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: سړي ته چې غُصَّه ورشي او هغه کوشش اوکړي، په ډير تکلف سره نفس مجبوره کړي او غُصَّه اونکړي نو دې عمل ته کَظْمُ الْغَيْظ وائي، يعنې غُصَّه خښل، که بيا بيا د غُصّے خښلو مشق اوکړے شي، تر دې پورې چې داسې حالت پيدا شي چې غُصَّه هډو ورځي نه، او که غُصَّه ورشي نو هُم چې د تکليف نه بغير ئې په ډيره آسانئ سره اوخښي، دې کيفيت ته حِلم وائي. اِمام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: د غُصَّه خښلو په نِسبَت حِلم زيات افضل دے، حِلم د عقل د کمال دليل دے. (1)

اے عاشِقانِ رسول! ☆حِلْم د الله پاك صِفَت دے☆کوم خوش نصيبه ته چې د حِلْم دولت نصيب شي، هغه د الله پاك خوښ شوے او خوږ بنده جوړيږي☆فرښتے د حِلْم والا مدد ګاري دي☆د حِلْم والا کس خلق تعريف کوي☆او حِلْم والا انسان اوچتو درجو ته رسي☆د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: پينځه

1 ...اِحياءُالعلوم، جلد:3، صفحه:535تا536۔

خيزونه د انبياؤ عَلَيْهِمُ السلام سُنَّت دي، په هغې كښې يو **حِلْم** دے.[1] ☆په يو حديثِ پاك كښې دي: بيشكه مسلمان د **حِلْم** په ذريعه د ورځې روژه نيولو او د شپې عبادت كولو والا درجه مومي.[2] ☆سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: بيشكه **الله** پاك **حِلْم** والا خوښوي.[3] ☆په حديثِ پاك كښې دي: په ورځ د قيامت به خلق جمع كړے شي، يو اعلان كوونكے به اعلان اوكړي: **اَهْلِ فَضْل** چرته دي؟ د دې په اوريدلو به څه خلق په تادئ جَنَّت طرف ته ور وړاندې شي، فرښتے به د هغوئي نه تپوس اوكړي؟ تاسو په تادئ تادئ جَنَّت طرف ته ولے ځئ؟ هغوئي به اووائي مونږه **اَهْلِ فَضْل** يُو. فرښتے به ترينه تپوس اوكړي: ستاسو فضيلت څه دے؟هغوئي به اووائي: چې كله به په مونږه ظُلم كيدلو نو مونږ به صبر كولو، زمونږ سره به چې چا بد سلوک كولو نو مونږ به مُعاف كولو او چې كله به چا زمونږ سره د جهالت سلوك كولو نو مونږ به د **حِلْم** مُظاهَره كوله.[4]

تُو عطا حِلْم کی بِھیک کر دے
میرے اخلاق بھی ٹھیک کر دے
تجھ کو فاروق کا واسطہ ہے
یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے[5]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام دويم صِفَت كوم چې په

---

1 …معجم كبير، جلد:5، صفحه:324، حديث:11282۔
2 …معجم اوسط، جلد:4، صفحه:369، حديث:6273۔
3 …سنن كبرىٰ بيهقي، كتاب:النكاح، باب:ماجاء فى قبلة الجسد، جلد:7، صفحه:174، حديث:13587۔
4 …شعب الايمان، باب:فى حسن الخلق، جلد:6، صفحه263، حديث:8086۔
5 …وسائلِ بخشش، صفحه:139۔

سورۀ هُود آیت نمبر75 کښې بیان شوے دے، هغه اَوَّاهٌ دے. د اَوَّاهٌ لفظي معنٰی ده: ډیر آه کوونکے. علمائے کرام د ''اَوَّاهٌ'' 13 معنې بیان کړې دي، د دې معنو په اعتِبار سره به د آیتِ کریمه مطلب دا شي چې ☆حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلام ډیر زیات آه و زاري کوونکے دے، ☆حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلام د **الله** پاك سره **محبت** کوونکے دے، ☆ حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلام ډیره عاجزي کوونکے دے ☆حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلام ډیره توبه کولو والا دے،☆حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلام ډیرې دُعاګانې کوونکے دے، ☆ حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلام ډیر زیات رحم کوونکے دے، ☆حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلام پوخ یقین والا دے،☆حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلام ډیر تسبیح لوستونکے دے،☆ حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلام نورو ته خیر ښیګړه زده کولو والا دے،☆حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلام د دوزخ نه ډیر زیات ویریدونکے دے، ☆ حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلام د بدئ نه بچ کیدونکے دے،☆په حبشي ژبه کښې ''اَوَّاهٌ'' رحم کولو والا ته وائي، په دې لحاظ سره به معنٰی شي: حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلام ډیر رحم کوونکے، ډیر کرم کوونکے دے. ☆امام بُخاري فرمائي: اَوَّاهٌ هغه چا ته وائي، د چا زړه چې هر وخت **الله** پاك طرف ته لګیدلے وي، په دې لحاظ سره به معنٰی شي: د حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلام زړه به هر وخت د **الله** پاك طرف ته لګیدلے وو. **(1)**

د حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلام **دریم وصف** کوم چې قرآنِ کریم بیان کړے دے، هغه **مُنِیْب** دے. دا لفظ د **اِنَابَةٌ** نه جوړ دے او د **اِنَابَةٌ** معنٰی ده: **اَلرُّجُوْعُ مِنَ الْکُلِّ اِلٰی مَنْ لَهُ الْکُلُّ** تول هر څه پریښودل او صرف د هغه [الله] طرف ته رجوع کوم چې د ټولو مالِك

1 ...تفسیرنعیمی، پارہ:12، سورۂ ھود، زیرِ آیت:75، جلد:12، صفحہ224۔

دے. په دې لحاظ سره به معنیٰ شي: حضرت اِبراهیم عَلَيۡهِ السَّلَام دُنیا او د دُنیا ټول هر څه پرېښودي دي او صرف **الله** پاك طرف ته رُجوع کوونکے دے. (1)

سُبۡحٰنَ الله! د **الله** پاك د خلیل حضرت اِبراهیم عَلَيۡهِ السَّلَام څومره ښکلې صِفات دي، **الله** پاك دِ د حضرت اِبراهیم عَلَيۡهِ السَّلَام په برکت مونږ ته هم خپل کامل مَحَبَّت را نصیب کړي، کاش چې! د حِلۡم دولت رانصیب شي، کاش چې! مونږه هم د **الله** پاك د ویرې نه آه وزاري کوونکي جوړ شو، کاش چې! د دُنیا مَحَبَّت مو د زړه نه اوځي او مونږه صرف **الله** پاك او د هغه د حبیب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طرف ته رُجوع کوونکي جوړ شو.

محبت میں اپنی گما یاالٰہی		نہ پاؤں میں اپنا پتا یاالٰہی
رہوں مست وبے خود میں تیری ولا میں		پلا جام ایسا پلا یاالٰہی
مرے دل سے دنیا کی چاہت مٹا کر		کر اُلفت میں اپنی فنا یاالٰہی
مرے اشک بہتے رہیں کاش ہر دم		ترے خوف سے یاخدا یاالٰہی (2)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!		صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (4) حضرت اِبراهیم عَلَيۡهِ السَّلَام ډېر زیات اطاعت کوونکے دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! **الله** پاك د حضرت اِبراهیم عَلَيۡهِ السَّلَام ډېر ښکلے وصف په قرآنِ کریم کښې بیانوي، ارشاد فرمائي:

---

1 ...نضرۃ النعیم، جلد:3، صفحہ:540۔
2 ...وسائلِ بخشش، صفحہ:105 ملتقطاً۔

| | |
|---|---|
| اِذۡ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗۤ اَسۡلِمۡ ۙ قَالَ اَسۡلَمۡتُ لِرَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۱۳۱﴾ (پارہ1،سورۃالبقرۃ:131) | مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان: ياد كړه چې كله د هغه ربّ هغه ته اوفرمائيل: فرمانبرداري اوكړه، نو هغه عرض اوكړو: ما فرمانبرداري اوكړه د هغه كوم چې د ټولو جهانونو پالونكے دے. |

مُفَسِّرِين كرام فرمائي: د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام عمر مبارك چې كله ووه كاله وو نو هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام ته اوفرمائيل شو: اے ابراهيم! په هر شان سره زمونږه فرمانبرداره جوړ شه! په دې باندې حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام فوراً عرض اوكړو: زه د زړه نه د خپل ربّ فرمانبردار يم.

بيا حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ټول ژوند په دې باندې قائم پاتې شو، د دې د پاره هغوئي د غټو غټو مشكلاتو نه تير شو خو هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د **الله** پاك فرمانبرداري پرې نښوده. چې كله هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د **نَبُوَّت** اِعلان اوفرمائيلو نو نمرود بدبخته هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام **مَعَاذَ الله** په اور كښې د اچولو ناپاكه كوشش اوكړو، چې كله هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام اور ته اچولے كيدلو، هغه وخت حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام حاضر شو او عرض ئې اوكړو: اے ابراهيمعَلَيْهِ السَّلَام! كه څه حاجت وي نو اُووائے. هغوى اوفرمائيل: تا ته مې څه حاجت نشته. عرض ئې اوكړو: نو **الله** پاك ته عرض اوكړئ. هغوى اوفرمائيل:**الله** پاك پخپله ما وينې، د عرض كولو ضرورت نشته.

[ په دغه وخت كښې **الله** پاك اور ته حكم اوكړو: اے اوره! په ابراهيم باندې يخ او سلامتيا والا جوړ شه.

نو اور په حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام باندې يخ او سلامتيا والا جوړ شو او حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته په اور كښې د هيڅ قِسمه تكليف نه كيدلو.]

چې کله قوم د حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام خبره اُونه منله، کَلِمه ئې اونه لوسته او د حق تابعداران جوړ نه شو، قوم خپل ضِد ښکاره کړو نو حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام خپل کور پريښودو او د الله په لاره کښې ئې هجرت اوکړو، حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام د بُزُرګۍ په عمر کښې وو، چې هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام ته د اولاد نِعمَت عطا شو، د حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام وړومبے شهزاده حضرت اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلَام لا د شودو ښنلو په عمر کښې وو چې حکم اوشو: اے ابراهيمه! خپل بچے او د دوئي مور په مکه مکرمه کښې پريږده. په هغه وخت کښې مکه مکرمه بالکل غير آباده وه، دلته هيڅ څوك نه اوسيدل، او د ژوند تيرولو څه اسباب هم نه وو، هغه وخت هم حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام د **الله** پاك حکم اومنلو او خپل شهزاده او د هغوئي والده حضرت هاجره رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا ئې په مکه مکرمه کښې پريښودل، بيا د حضرت اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلَام عمر مبارك لا 13 يا 17 کاله وو چې حکم اوشو:اے ابراهيم! خپل شهزاده حضرت اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلَام قُربان کړه، حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام دا حکم هم اومنلو او د خپل شهزاده په مرئ ئې چاړه کيښوده.(1)

**سُبۡحٰنَ الله**! په اصل کښې فرمانبرداري هم دا ده.....! حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام چې کله د **الله** پاك داسې کامله فرمانبرداري اختيار کړه نو هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام ته چې کوم انعام عطا شو **الله** پاك په قرآنِ کريم کښې د هغې ذِکر کوي، فرمائي:

---

1 …تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:131، جلد:1، صفحہ:745تا746بتغیر قلیل۔

وَلَقَدِ اصْطَفَیْنٰهُ فِی الدُّنْیَاۚ-وَ اِنَّهٗ فِی الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِیْنَ(۱۳۰)

(پارہ1،سورۃالبقرۃ:130)

مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: بیشکه مونږه هغه په دُنيا کښې غوره کړے وو او بیشکه هغه به په آخرت کښې زمونږه خاص قُرب موندونکو نه وي.

په دې آيت کښې **اللّٰه** پاك د حضرت ابراهيم عَلَیۡہِ السَّلام دوه اوچت شانونه بيان شوي دي: (1) **اللّٰه** پاك په دُنيا کښې حضرت اِبراهيم عَلَیۡہِ السَّلام په ډيرو صِفاتو کښې غوره کړے وو، هغوئي عَلَیۡہِ السَّلام ته نَبُوَّت عطا شوے وو، هغوئي عَلَیۡہِ السَّلام رسول جوړ شوے وو، هغوئي عَلَیۡہِ السَّلام ته اِمامَت ورکړے شوے وو، د حضرت اِبراهيم عَلَیۡہِ السَّلام نه پس چې څومره انبياء عَلَیۡہِمُ السَّلام دي، ټول د هغوئي عَلَیۡہِ السَّلام په اولاد کښې دي، **اللّٰه** پاك حضرت اِبراهيم عَلَیۡہِ السَّلام خپل خليل جوړ کړو، په حضرت اِبراهيم عَلَیۡہِ السَّلام باندې د حج افعال ظاهِر شو، د حضرت اِبراهيم عَلَیۡہِ السَّلام جوړه کړې کعبه د هميشه د پاره باقي اوساتلے شوه، د حضرت اِبراهيم عَلَیۡہِ السَّلام اوسيدلو والا ښار مکه مکرمه د امن مقام جوړ شو، ټول آسماني دينونه د حضرت اِبراهيم عَلَیۡہِ السَّلام تعريف کوي، په عرب و عجم کښې د حضرت اِبراهيم عَلَیۡہِ السَّلام نوم مشهور دے، او (2) **دويم شان** ئې دا دے چې **اللّٰه** پاك حضرت اِبراهيم عَلَیۡہِ السَّلام په آخرت کښې په خاصو صالحينو کښې اوساتلو يعني د قيامت په ورځ به خاص د ولايت تاج د هغوئي په سر کيښودے شي، د قيامت په ورځ به حضرت اِبراهيم عَلَیۡہِ السَّلام ته خاص خِلعَت [يعني خاص ښائسته جامے مبارکې] واغوستلے شي، په آخرت کښې به ټول بے کپړې وي او د حضرت اِبراهيم عَلَیۡہِ السَّلام په مخ مبارك به کپړه مبارك وي، او په ورځ د قيامت به د حضرت اِبراهيم عَلَیۡہِ السَّلام د شهزاده احمد مُجتبیٰ، تَاجدارِ انبياء، **خَاتَمُ النَّبِيّٖن**،

محمد مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان و عظمَت ښکاره کړے شي. (1)

| | |
|---|---|
| دکھائی جائے گی محشر میں شانِ محبوبی | کہ آپ ہی کی خُوشی، آپ کا کہا ہو گا |
| خُدائے پاک کی چاہیں گے اگلے پچھلے خُوشی | خُدائے پاک خوشی اُن کی چاہتا ہو گا(2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**اے عاشِقانِ رسول!** مونږه د **الله** پاك بندګان یو او د بنده کار عقل استعمالول نه دي بلکه حکم منل دي. په سیپاره 22، سورۂ احزاب، آیت نمبر36 کښې ارشاد دے:

وَ مَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّ لَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗۤ اَمْرًا اَنْ یَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِیَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْؕ- (پارہ22،سورۂ احزاب:130)

مفهوم ترجمه کنز العرفان: او د یو مسلمان نارینه او زنانه د پاره دا روا نه دي چې کله د الله او د هغه رسول د یوې خبرې فیصله اوفرمائي نو د هغوئي په خپله مُعامَله کښې څه اختیار باقي پاتې شي.

په دې آیت کښې اوفرمائیل شو اے مسلمانانو! کله چې **الله** پاك او د هغه رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ستاسو د ځان، مال یا په بله څه باره کښې د څه څیز حکم اوفرمائي نو تاسو ته په هغې کښې د دخل اندازئ کولو اختیار نه پاتې کیږي، په هغه حکم باندې عمل کول په تاسو فرض وي. **مُفسّرِ قرآن،** مفتی احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د دې آیتِ کریمه نه یو خو دا معلومه شوه چې که د **الله** پاك حکم وي او که د **الله** پاك د رسول حکم وي، په دواړو باندې یو شان عمل کول واجب دي، دغه شان د دې آیتِ کریمه نه دا هم معلومه شوه چې د شریعت یو حکم

---

1 ...تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:130، جلد:1، صفحہ:744 بتغیر قلیل۔
2 ...ذوقِ نعت، صفحہ:51۔

زمونږ د طبیعت مطابق وي نو په هغې باندې د **الله** پاك شُكر ادا كول پكار دي او كه یو حکم زمونږ د طبیعت، زمونږ د رائے او زمونږ د عقل خلاف وي نو دا قُصُور د شرعي حكم نه دے بلكه زمونږ د طبیعت، زمونږ د رائے او زمونږ د عقل دے، لِهٰذا د داسې احکامو مُتَعَلِّق بنده له پکار دي چې د عقل د منلو په ځائے خپل ځان په اطاعت كولو مجبوره كړي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِیْم! په دې كښې به بهتري اووینې، د **الله** پاك او د هغه د حبیب په احکامو باندې اعتراض كولو كښې بدبختي ده. **(1)**

اوګورئ! د شیطان مردود اوَّل خومره اوچته مرتبه وه، **الله** پاك ورته حکم اوكړو چې حضرت آدم ته سجده اوكړه، دې بدبخته د **الله** پاك په حكم باندې اعتراض اوكړو، د **الله** پاك د حكم په مُقابَله كښې ئې خپل عقل استعمال كړو، نو د همیشه د پاره مردود اوګرځیدو. معلومه شوه چې خپله ناقصه رائے بنه ګنړل شیطاني كار دے او د **الله** پاك په حكم باندې عمل كول د حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلَام او د ټولو انبیائے كرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام او نیكو خلقو طریقه ده.

عقل کو تنقید سے فرصت نہیں | عشق پر اعمال کی بنیاد رکھ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دولسو دیني كارونو كښې یو دیني كار "چوك درس"

اے **عاشِقانِ رسول**! د نیك لمونځ ګزاره جوړیدلو، د **الله** پاك او د هغه د حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اطاعت و فرمانبردارئ جذبه حاصلولو د پاره د عاشِقانِ رسول دِیني تحريك دعوتِ اسلامي دیني ماحول كښې شامل شئ او 12 دیني كارونو كښې په اخلاص سره

1 ...شانِ حبیب الرحمٰن، صفحه:165 و 167۔

خپل کردار ادا کړئ او د ډېرو ثوابونو حقدار جوړ شئ. په دې 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار "**چوك درس**" هم دے. د دې ديني کار بےشميره ديني او دنياوي فائدے دي: مثلاً ☆"**چوك درس**" مسلمانان د بدو (کارونو) نه د بچ کولو ذريعه ده، ☆"**چوك درس**" بيلمانځه لمونځ ګزاره جوړوي، ☆"**چوك درس**" د جمات نه لرې اوسيدونکي جمات ته نِزدے کوي، ☆ د "**چوك درس**" په برکت د نيکو رغبت پيدا کيږي، ☆ د "**چوك درس**" په برکت په علاقه کښې ديني کارونه ترقي کوي. ☆"**چوك درس**" د لمونځونو د پابندئ ذِهن ورکوي..

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! دعوتِ اسلامي والا په جماتونو کښې خو درس ورکوي، د دې سره سره په چوك، بازار، سکول کالج وغيره کښې هم درس ورکوي، د نيکئ دعوت عام کوي او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنّتونه خوروي.

## د ګناهونو نه توبه نصيب شوه

د لانډهي (کراچي پاکستان) اوسيدونکي يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: زمونږ په علاقه کښې د يو ويډيو سنټر نه بهَر د دعوتِ اسلامي سره وابسته يو اسلامي ورور به د ګرمئ او يخنئ پرواه کولو نه بغير په مستقل مزاجئ سره چوك درس ورکولو، هغه اسلامي ورور به د دې ويډيو سنټر مالك ته هم په درس کښې د شريك کيدلو دعوت ورکولو خو هغه به هره ورځ د مصروفيت بهَانه کوله او مَعذِرت به ئې کولو، آخر کار د ويډيو سنټر مالك هم په درس کښې شريك شو، چې کله مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي درس شروع کړو نو د خوفِ خُدا او عِشقِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ډك الفاظو د هغه په زړه ډير اثر اوکړو، د غفلت پردے ترينه اوچتې شوې او د چوك درس په برکت د ويډيو سنټر مالك باندې فِکرِ آخرت غالب شو، د درس نه پس اسلامي ورور هغه ته د دعوتِ اسلامي هفته

واره اجتماع کښې د شريك كيدو دعوت پيش کړو، هغه په هفته واره اجتماع کښې شريك کيدل شروع کړل، په قلاره قلاره په هغه کښې تبديلي راتلل شروع شو، آخر د ويډيو سنټر مالك د ټولو ګناهونو نه توبه اوکړه، د ګناهونو ډك كار يعني ويډيو سنټر ئې هم بند کړو. او دغسې په ګناهونو کښې نښتے مسلمان د چوك درس په برکت د نيکۍ د لارې مُسافِر جوړ شو. (1)

اسی ماحول نے ادنی سے اعلی کر دیا دیکھو | اندھیرا ہی اندھیرا تھا اجالا کر دیا دیکھو

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّی اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اوفرمائيل: "زما په نائب باندې دِ د اللّٰه پاك رحمت وي. عرض اوکړے شو: حُضُورا ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت کوونکے او نورو ته ښودونکے." (2)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا | جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## مُعانَقَه کول سُنَّت دي

دوه فرامينِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (1) د چا چې ورور وي هغه له پکار دي چې د

---

1 ...میں نے ویڈیو سینٹر کیوں بند کیا؟، صفحہ:5۔

2 ...جامع بيانِ عِلم، بَابُ:عِلم کے فضائل، جلد:1 صفحہ:201، حدیث:220۔

خپل ورور سره مُعانقه اوکړي [يعني غاړه ورکړي، ورغاړه وځي].[1] (2): مُعانَقه د اُمَّتيانو تَحِيَّت (يعني د ملاقات ادب) او ښه دوستانه ده او د ټولو نه اوَّل مُعانَقه د **اللّٰه** پاك خليل حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام کړي وه.[2]

**اے عاشِقانِ رسول!** يو بل له غاړه ورکولو ته مُعانقه وائي او مُعانَقه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دے. ☆په **مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح** کښې دي: په خوشحالئ کښې چا له غاړه ورکول سُنَّت دي.[3] زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير ځله په صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان شفقت کړے دے او هغوئي ته ئې د غاړې ورکولو شرف عطا کړے دے، مَثَلاً ☆د خيبر په موقع باندې خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت جعفر رَضِیَ اللهُ عَنْه د سينے سره اولګولو او په تندي ئې ښکل هم کړو.[4] ☆يو ځل خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت ابوذر غِفَاري رَضِیَ اللهُ عَنْه را اوبللو، چې کله هغه حاضر شو نو خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغه شفقت اوکړو او هغه ئې خپلې غاړې مبارکې سره اولګولو.[5]

**اے عاشِقانِ رسول!** مُعانَقه يعني غاړه ورکول سُنَّت دي، البته **اَمْرَد** يعني ښکلي نابالغه هلکانو له غاړه ورکولو نه پرهيز کول بهتر دي چې په دې کښې په ګناهونو کښې د مُبتلا کيدلو سخته انديښنه ده. **اللّٰه** پاك دِ مونږه د سُنَّتو پيروکار جوړ کړي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1 ...كَنْزُ الْعُمَّال، كتاب: الفضائل، جلد: 7، جز: 13، صفحه: 26، حديث: 36235۔
2 ...ميزان الاعتدال، حرف العين، جلد: 5، صفحه: 226، حديث: 6080۔
3 ...مرآة المناجيح، جلد: 6، صفحه: 359۔
4 ...ابو داؤد، كتاب: الادب، باب: قبلة ما بين العينين، صفحه: 813، حديث: 5220۔
5 ...ابو داؤد، كتاب: الادب، باب: قبلة ما بين العينين، صفحه: 812، حديث: 5214 خلاصةً۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زیارت مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چي دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چي دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چي په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چي دا څوك اوچتې مرتبے والا دے! چي كله هغه لاړو نو سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چي كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[3] راځئ چي مونږه

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

3...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكۍ ليكي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵